.BFA REPUBLIC OF AUSTRIA
FEDERAL OFFICE FOR IMMIGRATION AND ASYLUM

# د EURODAC د 29 (3) مادي سره سم د پناه غوښتونکو لپاره معلومات – VO (د اورپايي ټولني کنوانسيون 2013/603 د شورا، د 2013.6.26 نيټي څخه

تاسو په اطريش کي د نړيوال حفاظت لپاره غوښتنليک ورکړی دی. په دي اساس، د اطريش (اروپايي ټولني) له اړوند قانوني مقرراتو سره سم، اوس به ستاسو د ګوتو نښانونه واخيستل شي.

دا کار به د فدرالي دفتر د صلاحيت لرونکي استازي او يا د هم د عمومي امنيتي خدماتو د صلاحيت لرونکي استازي لخوا ترسره شي.

ستاسو د ګوتو د نښانونو ډيټا به د "EURODAC" سيستم د ګوتو نښانونو له ډيټا سره مقايسه شي، کوم چي د اروپايي ټولني د غړيو هيوادونو، او همدا رنګه د ناروي او آيسلند، سويس او ليښټن شتاين لخوا، د اوسنيو نافذه قانونی الزماتو سره سم، مرکزي ډيټابيس ته ليږل کيږي. د دي کار مقصد دا دی چي دا خبره په چټکي سره معلومه شي چي کوم غړی هيواد ستاسو د پناه غوښتني د دوسيي مسئوليت په غاړه لري، که چيري تاسو مخکي د ډوبلين مقرراتو تابع بل هيواد کي وخت تير کړی وي.

ستاسو د معلوماتو ډيټا به د اطريش قانوني صلاحيت لرونکي د پناه غوښتني او امنيت اداري او همدا رنګه د "EURODAC" د مرکزي ډيټا بانک په سيستم کي وساتل شي. که ضرورت وي، ستاسو ډيټا به د اروپايي ټولني بل غړي هيواد/هيوادونو ته هم وليږل شي، چيري چي تاسو مخکي هلته وخت تير کړي وي.

که تاسو په اطريش کي د پناه غوښتني لپاره درخواست کړي وي (او که ستاسو عمر له ۱۴ کلنو څخه پورته وي) اطريش مکلف دی چي د اروپايي ټولني له قانون سره سم د پورته ذکر شوي مقصد لپاره ستاسو د ګوتو نښانونه واخلي.

تاسو دا حق لرئ چي په "EURODAC" سيستم کي ستاسو اړوند د ګوتو د نښانو ډيټا په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

همدا رنګه تاسو کولای شئ دا غوښتنه وکړئ چي په واقعيت کي غلط معلومات بايد اصلاح شي او يا غيرقانوني ساتل شوي معلومات بايد له سيستم څخه حذف شي.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ او په مناسب وخت کي د فدرال دفتر يا امنيتي ادارو له کارکوونکو سره تماس ونيسئ، کوم چي ستاسو دوسيه تعقيبوي. د پناه غوښتونکي په توګه، په اړوند منطقوي دفتر کي د فدرالي دولت د کورنيو چارو وزارت قانوني او حقوقي مشاورين او همدا رنګه په اړوند لومړني استقباليه مرکز کي د فدرالي دولت د کورنيو چارو وزارت قانوني او حقوقي مشاورين ستاسو په خدمت کي دي.